SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
دریم کال ځلور دیرشمه ګڼه پرله پسي (۱۳٤) چهارشنبه د۱٤۱۹هق کال دصفرالمظفر (۸) د۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرګولي دمياشتي (۱۳) د۱۹۹۸میلادي کال جون (۳)

زمین لرزه اي شدیدي ولایات تخار و بدخشان را تکان داد
از اثر این زلزله در حدود پنج هزار تن از هموطنان ما به قضاي الهي پیوسته اند

با تاسف فراوان اطلاع گرفتیم که از اثر وقـوع زلزله در ولایات تخار و بدخشـان در حدود پنج هزار تن از هموطنان ما به قضاي حق پیوسته اند.

انا لله و انا الیه راجعون

گزارش هاي رسیده به آژانس اطلاعاتي باختر حاکیست شدت این زلزله که در مناطق سرحدي افغانستان و تاجکستان به وقوع پیوسته هفت اعشاریه یك درجه ریکتر بوده که مرکز آن در ولایت تخار ثبت گردیده است.

در نتیجه این حادثه المناك علاوه بر شهادت پنج هزار نفر از هموطنان ما به شمول زنان، اطفال و پیر مردان بیش از هفتاد قریه در مناطق زلزله زده تخریب و خساره مند گردیده است و در حدود یکهزار نفر دیگر زخمي گردیده اند.

بیشترین تلفات و خسارات این زلزله در ولسوالي شهر بزرگ ولایت بدخشان بوده که از اثر آن دو هزار و هشتصد تن از هموطنان ما به قضاي حق رسیدند.

این بار دوم است که هموطنان ما در ولایات تخار و بدخشان قرباني چنین زلزله میگردند.

وقـوع تکان هاي شـدید لزله در مناطق متذکره تلفات سنگین جاني و خسارات هنگفت مالي به مردم آن مناطق وارد آورده ص،٤،

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي! ، همدا (عدل) ډیر نـږدې دی تقوا(پرهیزګـاری) ته .

(سورة المائدة)

دکابل پوهنتون دلیلیې دبیا پرانستل کیدلو او دنویو شامل شویو محصلینو په ویاړ په کابل پوهنتون کي درنه غونډه جوړه شوه

له یو ځه لږ ځنډ وروسته د کابل پوهنتون د لیلیې د بیا پرانستل کیدلو او په پوهنتون کي د نویو شامل شویو محصلینو په ویاړ د روان کال د صفر المظفر په اتمه د سه شنبي په ورځ درنه او شانداره غونډه جوړه شوه.

د شریعت اوونیزي خبریال خبر راکړ: غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه. په تلاوت پسي د کابل پوهنتون رئیس محترم مولوي پیر محمد روحاني خبري وکړي او د خپلو خبرو په ترڅ کي یې د اسلامي امارت له مسـؤولینو نه پوهنتونو ته او نورو زده کړه ایښزو موسسو ته د خاصي توجه او په دې اړه د نه ستړي کیدونکو هلو ځلو له امله مننه وکړه.

وروسته د کابل پوهنتون د استادانو په نماینده ګي محترم استاد حقایقي وینا وکړه او د شاګردانو د سالمي روزني او په خپلو دندوکي د ایماني او وجداني مسـوولیت د ځلورم مخ

په څلورو جبهو کي د اسلامي امارت په سنګرونو د مخالفو باغیانو بریدونه په شا وتمبول شول

په هره جبهه کي له سختي ماتي وروسته باغیانو خپل مورال له لاسه ورکړیدي

په څلورو جبهو کي تیره شپه او د صفر په ۷ مه د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو پلان شوي او هماهنګ بریدونه په الهي «ج» نصرت سره د اسلامي اردو د مجاهدینو لخوا له ماتي سره مخامخ شول.

یوه مربوط پوځي خبرځاي د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ چي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفینو چي له بیلا بیلو استقامتونو ته یې په څلورو جبهو کي د ګډي او هماهنګي قوماندي او پلان لاندي د اسلامي اردو د مجاهدینو په سنګرونو او مورچلونو باندي بریدل کړي و په الهي نصرت سره دښمن د سر د درندو زیانونو او زیاتو مالي تاوانونو په زغملو سره له ماتي سره مخامخ شو.

د اسلامي امارت مخالفینو د تخار ولایت له استقامت نه په بنګی کي د مجاهدینو په سنګرونو، د بغلان ولایت په بورکه کي، د کابل په شمال کي د شکر دري په دره کي د مجاهدینو په سنګرونو باندي حملي وکړي چي د درندو زیانونو او تاوانونو په زغملو سره په شا تګ ته اړشول او د هغوي د لسګونو ځلورم مخ

ځلورم مخ

دتخار او بدخشان په ولایتونو کي د وروستي زلزلي له امله د مصیبت ځپلو خلکو په نامه

د عالیقدر امیر المؤمنین پیغام

مسلمانو هیوادوالو!

په هغه ستر مصیبت سره چي تاسي ورسره مخامخ شوي یاست په ژوره توګه اندیښمن شوم، انا لله و انا الیه راجعون.

لوي او بخښونکي خداي "ج" دي زموږ مسلمان هیواد وال له دغه شان مصیبت نه وژغوري او له بشر دوستو او خیر غوښتونکو ټولو او په تیره بیا د نړي له مسلمانانو نه غوښتنه کوو چي د زلزلي له امله ته مصیبت ځپلو خلکو سره خپلې مرستي ونه سپموي.

د افغانستان اسلامي امارت په ټوله مانا د بشري مرستو په لیږدونه او رسولو کي له مرستندویو موسسو سره همکاري ته چمتو دي او د اسلامي امارت هوایي او ځمکنیو پوځونو ته یې امر کړیدي چي د بشري مرستي د موادو د لیږدونې مزاحم نشي.

د افغانستان اسلامي امارت له خپل توان او وس سره سم له خپلو مصیبت ځپلو مسلمانو هیوادوالو سره هر راز مرستي او کمك ته تیار دي.

والسلام
د اسلام خادم
امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد

دهوایي او هوایي مدافعي د پوهنتون د ۱٤۱۹ هـ ق تعلیمي کال دیولړ مراسمو په ترڅ کي پرانستل شو

د هوایي او هوایي مدافعي د پوهنتون د ۱٤۱۹ هـ ق تعلیمي کال د صفر په ۷ مه د یو لړ مراسمو په ترڅ کي پیل شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبریال خبر راکړ په هغو مراسمو کي چي له همدي امله ددغه پوهنتون په قوماندانۍ کي جوړ شوي و د هوایي او هوایي مـدافـعي د پوځ عمومي قوماندان محترم ملا اختر محمد منصور او د ملي دفاع وزارت او د هوایي پوهنتون د قوماندانۍ د مشرتابه هیأت ځینو غړو، استادانو او محصلانو ګډون کړي و.

مراسم د کلام الله مجید د څو ایتونو په لوستل کیدو سره پیل شول ځلورم مخ

کار ترمیم سرك اسـعد آباد افـتتاح و آغـاز ګردید

کار ترمیم سرك اسعد اباد مرکز ولایت کنر ها طي محفلي افتتاح و آغاز ګردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از شهر اسعد اباد خبر داد: درین محفل پس از تلاوت آیاتي چند از کلام الله مجید محترم داکتر عنایت الرحمن رئیس انکشاف دهات ولایت کنرها در رابطه به اهمیت و ارزش همچو پروژه هاي عام المنفعه صحبت نموده و از همکاري مالي و تخنیکي موسسه سازمان غذایي جهان در زمینه ابراز قدرداني نمود. در امتداد سرك متذکره به تعداد سه پلچك بزرګ و ص،٤،

بیش از دو هزار کیلو ګرام تریاك در فارم هده ننګرهار طعمه حریق ګردید

بحضور محترم مولوي عبدالکبیر معاون شوراي سرپرست ، رئیس تنظیمه زون شرق و والي ولایت ننګرهار و تعدادي از نماینده ګان موسسات سازمان ملل متحد مقدار دو هزار کیلو ګرام تریاك در فارم هده ولایت ننګرهار حریق ګردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از شهر جلال اباد ص،٤،

د هیلمند ولایت د بریښنا کوټ د بنسټ ډېره دیوي غونډي په ترڅ کي کیښودل شوه

د هیلمند ولایت د بریښنا کوټ د ودانۍ د بنسټ ډبره د صفر المظفر په شپږمه د یوي غونډي په ترڅ کي کیښودل شوه.

د هیلمند له ولایت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: په هغې غونډه کي چي له همدي امله د لښکرګاه په دوه لاري کي جوړه شوي وه د کلام الله مجید د څو ایتونو له لوستل کیدو وروسته د هیلمند ولایت د بریښنا رئیس محترم مولوي غلام یحیي د اسلامي نظام د ص،٤،

ګروپي از فروشنده ګان مواد مخدر دستګیر ګردید

ګروپي از فروشنده ګان مواد مخدر از بازار بره کي راجان ولایت لوګر دستګیر ګردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد نور آغا ولد محمد اسلم ... الدین ولد حمید الله، راز محمد ولد میر احمد، شاه ولي ولد ... محمد و نور احمد ولد شمس الدین ساکنین ولسوالي بره کي برك از ولایت حین خرید و فروش تریاك توسط موظفین استخبارات ولایت لوګر دستګیر ګردیده قضیه تحت تحقیق قرار دارد.

دغلام محمد میمنګي دانځور ځاي په فارغینو دیوي غونډي په ترڅ کي دیپلومونه وویشل شول
د غلام محمد میمنګي او ګالري ننداړتون هم په همدي غونډه کي پرانستل شول

د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د هنر او ادب د ریاست د غلام محمد میمنګي د انځور ځاي په فارغینو باندي د فراغت دیپلومونه د یوي غونډي په ترڅ کي وویشل شول.

د شریعت اوونیزي خبریال خبر راکړ په دې غونډه کي چي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په تالار کي جوړه شوي وه لومړي د قاري عزیز الرحمان لخوا د قرآن عظیم الشان څو ایتونه ولوستل شول وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي د غونډي ګډون کوونکو ته په زړه پوري وینا وکړه له ځلورم مخ

دستګاه تیلفون ستلایت ولایت هلمند افتتاح و ارتباط مخابره تیلفوني بین جلال آباد و طورخم تأمین و مورد استفاده قرار ګرفت

به سلسله باز سازي سیستم مخابراتي کشور دستګاه تیلفون ستلایت ولایت هلمند طي مراسمي افتتاح و مورد استفاده قرار ګرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر ګزارش ځلورم مخ

دامر بالمعروف دمؤظفینو لخوا خلکو ته په مسجدو کي دیني زده کړي کیږي
خلك په پوره ایماني جذبي سره جماعت ته راځي او د هر ډول فحشاء مخه نیول شویده

درنو او محترمو لوستونکو لاندیني راپور د خوست ولایت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست د شریعت اوونیزي اداري ته د نشر لپاره رالیږلي ذي چي موږ یې هم همدلته خپروو. ځلورم مخ

د جنګ له ډګر نه د مخالفو باغیانو یوولس تنه فراریان په واوروکسي وژل شوي او څلور تنه تر اوسه ورک دي

له کله نه چي د اسلامي امارت مخالفینو د اسلامي اردو د ځواکمنو مجاهدینو په وړاندي د مقاومت توان له لاسه ورکړیدي نو د کلي او سیمي کوچنیان سپین ږیري او ځوانان ټول د برچي په زور د جنګ ډګر ته راکشـري چي هغوي بیا هره شیبه د تیښتي لار څاري

په همدي لړ کي پرون د رستاق نه د مسعود د هغو پنځلسو افرادو د ځلورم مخ

یکمقدار سلاح و مهمات از مربوطات ولایت لوګر بدست آمد

قرار یك خبر رسیده یکمقدار سلاح و مهمات از مربوطات ولایت لوګر بدست آمد این اسلحه و مهمات شامل چهار میل کلاشینکوف، ۳ میل کره بین ، ۲ میل سه مغذو سه بور و ده ها شارژور کلاشینکوف ، هفتاد فیر راکت و یك قبضه تفنګچه مي باشد.

این سلاح و مهمات به اثر سعي و تلاش خستګي ناپذیر منسوبین آن ولایت کشف و بدست آمده است.

سرمقاله

د لوي خداي (ج) په نامه

د کال پوهنتون په غلبیل شوي سینه کي
او په هیواد کي د لوړو زده کړو، ښووني او روزني بهیر ګړندي شو

د کابل پوهنتون یو وخت ټولوال شهرت او اعتبار درلود، د لوړو سندونو او لوړو علمي رتبو استاذانو تدریس پکښي کاوه، د نړۍ ځینو هیوادونو مالي، تخنیکي او علمي مرستي ورسره کولي مجهز کتابتون ، مجهز لابراتوارونه او ټول لوازم یې په لوړ کچ پوره وو:

کله یې چي بیا د کمونیزم پلیته عقیده غولي ته ورننوتله حال یې بدل شو، بیا نو د زده کړي په ځاي اخلاقي فساد په کي خپور شو او د الحادي ګوندونو ددعوت او اوزلوبي (بزکشي) مرکز شو، بیا د هیواد مسلمان زامن، لوڅه څه د بد اخلاقیو، څه د کفري عقیدي ښکار شول همدا حال د هیواد د نورو دولتي علمي موسسو هم وو له نیکه مرغه هغه استادان او محصلین چي په اسلامي عقیده کلك ودریدل هغوي له بې لاري شوو استادانو او محصلینو سره په ټاندریو، جګړو او مبارزو پیل وکړ له اسلام او اسلامي عقیدي نه ددفاع په لاره کي تل ورسره لاس او ګریوان وو هغوي په تره ددغه سیلاب مخي ته ودریدل او اکثرو یې هم په دغه لاره کي د شهادتونو لوړو پوړیو ته ورسیدل (رحمة الله تعالی علیهم)

د کمونیزم له تسلط نه وروسته د کابل پوهنتون، د هیواد نور پوهنتونو نه او دولتي علمي مرکزونه (طبعي خبره وه چي) د کمونیزم د عقیدي، عمل تیریو او وحشتونو غولي شول، نور نو د زده کړي او تحصیل خبري یوازي (براي نام) وي بیا چي د کمونیزم ټغر ټول شو د رباني په شرمیدلي دوره کي د کابل د پوهنتون نه یوازي هر څه لوټ شول او د پوهنتون نښي یې له منځه ولاړي بلکې د خپل منځي جګړو یو مضـبوط ځاي او نه ماتیدونکي سنګر شو چي د خلیلي، د ظالمو ملیشو د ظلمونو د قتلان دوهم پولیګون او دو دوهم مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»

مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»

دیوې ګڼې بیه : په هېواد کي (۱۰۰۰) افغانی په‌پاکستان‌کی(۳) کلداری

پوست بکس : (٤۷۱) تیلفون: ۲۰۰۷۵

په پېښور کي :دطالبانونمایندګۍ‌تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷

جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

حشتونو د تمرین تخته شو، انا لله ...

کله چي الله تعالي د کابل په مسلمانانو رحم وکړ او د طالبانو د اسلامي تحریك غازیان ورننوتل کمونستان، د هغو پاتي شوني او نور مفسدین بې وشړل، اسمان پورته شو او ځمکه ښکته، د مسلمانانو سترګي وغړېدي او غوږونه بې د شر او فساد د توپونو او توغندیو له درز ها ر نه یوځه ارام شول د کابل پوهنتون په مرمیو غلبیل شوي سینه باندي د مرهمو پټی لګول پیل شول د لوړو زده کړو او پوهنتون مؤمنو او مجاهدو مشرانو علماوو کرامو، استاذانو او کار پوهانو مټې رابډوهلي او د پوهنتون له صحني نه بې لومړي د ظالمانو د ظلم او بربریت نښې نښاني جارو کړي، د پوهنتون ښه بې په ځاي او نوم بې راژوندي کړ، محصلین بې راوبلل او له صفر نه بې کار پیل، کړ همدغسي حال د ننګرهار د پوهنتون، کندهار پوهنتون، هرات پوهنتون او د هېواد د ښوونې او روزنې د علمي مرکزونو او مدرسو چي ټولو کار له صفر نه پیل کړ د الله تعالي له توکل او دعلمي موسسو د مشرانو له اخلاص او منځو تر ړوبر ته نور هیڅ وسایل نه وو، ځکه نړۍ خو له هغې ورځني نه چي د طالبانو اسلامي تحریك او بیا د افغانستان اسلامي امارت د اسلام او اسلامي شریعت د نافذولو غږ کړي دي د هېواد علم، فرهنګ اقتصاد، زراعت او هر څه ته بې نه یوازي شاړاوګرزوله بلکي څومره بې چي وس و هغومره بد تبلیغات، ناندري او تخریب بې پیل کړي دي مګر د چا چي کار د الله تعالي لپاره وي هغه جل جلاله مرسته ورسره کوي او خذلان ته بې نه ورکوي - سبحانه و بحمده -

دا دي اوس د الله تعالي په فضل او مرسته، د علمي نهادونو د مشرتابه او اسلامي امارت د رهبري د اخلاص له برکته نن سبا په ګران هېواد کي د نویو او زړو ترمیم شویو دیني او عصري علومو د مدرسو شمیر زرګونو ته رسیږي، تدریسي او اداري چارې بې په ښه نظم او سمون په مخ ځي،

همدارنګه د کابل مظلوم پوهنتون په مرمیو غلبیل شوي سینه اوس روغه رمته شوي ده رونق او ښایست بې برحال، له‌ دېنه ارو محصلینو او استادانو ته ډك دي، د محصلینو شمیر بې له زرګونه رسیږي الحمد لله یوازیني مشکل چي محصلین ورسره مخ وو هغه د اعاشي او لیلیې ستونزه وه، نن ورځ د الله تعالي په فضل او د رهبري د مقام د اخلاص له برکته هغه مشکل هم حل شو، د اعاشي او لیلیې د پیل او د کانکور له ازموینو وروسته د نویوشامل شوي و محصلینو د درسونو د پیل په ویاړ پرون د کابل پوهنتون په انګړ کي یوه ستره غونډه جوړه شوي وه چي په هغه کي د افغانستان د اسلامي امارت مشرانو د پوهي او زده کړي د اهمیت په لاره په زړه پوري ویناوي وکړي همدارنګه د هېواد په نورو پوهنتونونو، پخوانیو او نویو عالي مدرسو کي د اعاشي او لیلیې کار له پخوا نه پیل شوي دي.

الله تعالي مهرباني کوي او فرمایي : « څوك چي د الله تعالي له منهیاتو ځان ساتي او ویرېږي هغه ته به له هغه ځایه روزي ورکړي چي دي ګومان نه کوي » د افغانستان اسلامي امارت او دیندار هېواد وال د الله تعالي رحمتونه په سترګو ویني شکرو نه وایي او د شمال مظلومو او مصیبت ځپلو ورونو ته د خلاصون دعا ګانې کوي، د عالاپرېږده چي د هغوي د خلاصون لپاره ویني تویوي او سرونه قرباني،، الله تعالي دي بې قبول کړي آمین.

هغه څه چي د افغانستان اسلامي امارت، د ښوونې او روزنې ، لوړو زده کړو او پوهنتونونو مشر تابه بې له خپلو ګرانو طالب العلمانو او محصلینو نه تمه لري او د ځپاندو هیلو سترګي بې ورته نیولي دي، هغه د دوي نیکمرغه راتلونکي، ددوي د دنیا او اخرت ودانول او تر ټولو لویه تمه او هیله د هېواد خپلواکي ځمکني بشپړتیا، ملي وحدت ساتل او له ټولونه اهمه خبره د اسلامي شریعت د نفاذ څارنه او ساتنه چي د لکونو ارزښتناکو ارواحو او سرونو په قرباني پیل شوي دي، *

له دوي نه غواړو چي همدا اوس دغه عالي احساس او روحیه له ځانه سره ملګري کړي د علوم زده کړه ددغه عالي احساس ، پاخه ایمان او صالحو عملونو په رڼا کي پاي ته ورسوي او په خپلو شهیدانو ورونو او پلرونو پسي سر ټیټي او شرمیدلي قبرونو ته ولاړ نه شي.

و ما توفیقي الا بالله

ظلم او کرم

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

ښاغلي محمد جعفر اڅکزي په خپلو جعفریاتو کي ددغه ټکي څرګندونه کوي چي : «په دنیا کي د ظلم او ستم تباه کاریاني دومره نه دي لکه د لطف او کرم چي دي، د هغه د انتقام له پاره خولستوني راپورته کیدلاي شي خو ددي لپاره به سړي څه کوي ؟

بو بل مبصر وایي : شورویان بیوقوف وو هغوي له جبر او تشدد نه کار اخست او د ټوپك په خوله ګرېدل خو په مقابل کي بې زاړه حریفان داسي دي چي سري په پستوکي وهي. دده خبره که د ښاغلي جعفر د څرګندوني شرحه نه ده نو حاشیه بې ضرور کیداي شي.

پرنګیانو ټول هندوستان د تجارت او کمپني له لارې لاندي کړ، د سرمایي جنګ، د ترباکو جنګ او د چاي جنګ په دغو ټولو جګړو کي نه د چا سرمات شوي او نه بې پوزه وینې شوي خو غالب او مغلوب بې معلوم دي.

پیرنګیان له هندوستانه په جنګ ونه شړل شول، د کانګریس پالیسي د عدم تشدد وه، په هندوستان کي به سیاسي لیډرانو ایله د ولایتي«لندني» مالونو له استعمال نه بایکاټ وکړ خو په پښتونخوا کي به بې په کیسه خواني کي په رڼا ورځ انګریز افسر په تومانچه ویشتلي ؤ - چي هندوستان تقسیم شو بې برخي هغه څوك پاتي شول چي په پیرنګي پسي بې تور او ټوپك اخیستي ؤ د ولي خان او احمل خټك سترګي لا تر هم د باچاخان مرکز د پرانستي په غونډه کي د پښتونخوا ګراني ته اوښتلي دي لکه چي تاریخ بو ځل بیا تکرار شوي وي د نجیب رژیم له نسکوریدو وروسته د قدرت واګي هغو ته ورکړل شوي چي له څلویښتم لښکر سره بې پروتوکول او راشه درشه لرله او ان د تره کي له وخته بې په کابل هوټل کي میلمستیا وي خوړلي اوس هم د دوي مراسم او اړیکي له پخوا زباني ټینګي دي هغو چي نور بې پر کرملین د شنه بیرغ رپولو ته هڅول اوس د کرملین په سره ډګر کي تر سره بیرغ لاندي ساه اخلي.

پخواني شوري اتحاد پر افغانستان بوځي یرغل وکړ، افغانان بې په وړاندي ودریدل او ښه په نره بې مقاومت وکړ، ظلم او ستم ته تسلیم نه شول، لستوڼي بې پورته کړل او د دغه وحشیانه یرغل په وړاندي بې د پاڅون او جهاد سنګرونه پیاوړي کړل، د شوروي اتحاد یرغلګري لښکري له شرمیدلي ماتي سره مخامخ شوي، د شوروي اتحاد د کمونیزم د دیکتاتوري کمبله له نړۍ څخه ټوله شوه .

خو ددغه سر لوړي مقاومت په اړدوکي افغانان د ډېرو د لطف او کرم له تباکاریانو سره مخامخ شول .

د پېښور د هیواد ورځپاڼي په دفتر کي یوه ورځ زموږ یوه پاکستاني انډیوال د خبرو پر وخت ووېل : ستاسو له جهاد او قربانیو امریکه ګټه پورته کوي، د جهاد وختونه ؤ زموږ، جذباتو په یوه وړه سپرغي هم دومره اور اخیستلاي شو چي بیا په اسانه نشو ګل کیداي، ما هغه انډیوال ته ووېل : موږ دا خبره له یوې مخې نه ردوو چي امریکه زموږ له جهاد او قربانیو ګټه نه پورته کوي، له امریکي پرته ډېر نور هیوادونه هم زموږ له سر ښندنو او مقاومت ډېري ګټې تر لاسه کړي او کوي بې اوس ددي له پاره چي امریکه یا نور زموږ له جهاد نه ګټه پورته کوي موږ جهاد پرېږدو د شوروي اتحاد په وړاندي مقاومت زموږ مجبوریت دي زموږ ددین، وطن او خلکو د موجودیت او برخلیك سوال دي، شوروي اتحاد د امریکي رقیب او دښمن دي څومره چي زموږ پر مقاومت او جهاد د امریکي دښمن کمزوري کیږي طبیعي خبره ده چي د امریکي په ګټه ده .

ده ووېل : امریکي سیاستي پر اوږه ټوپك ایښي، ورته ومې ویل تر دي هم خبره اوښتي خو دا هر څه زموږ مجبوریت دي.

د روسانو د ظلم او تیري ځواب موږ ورکړ او که پاتي وي لګیا یو ورکووبې خو د لطف او کرم له اړخه چي موږ څومره تاواني شوي یو د هغې په غبرګون او علاج لا تراوسه هم حیران دریان یو.

هغه مهال موږ دا نشواي منلاي چي ګټې ټوله ګستهه به د بل لمنې ته لوېږي او موږ به خالي لاس پاتیږو، موږ ویل خیر دا لږ ګټه دي بل هم وکړي خو اصلي ګټه مو خپله بلله ، موږ ددي خبري تصور هم نشواي کولاي چي ګټه خو څه کوي اصلي پانګه به مو هم له لاسه وځي.

د روس له لاسه به زموږ پر ټټر جوړ زخمونه روغ شي خو په پستو کي وهل شوي دردونه به مو څنګه په کرار شي؟ بده بې داده چي اوس روسانو هم په پستوکي د وهلو چل زده کړي، سړي نشي ویلي چي دغه چل روسانو نه ښودل شوي که دوي زدکړي .

داسي هم کیداي شي چي ددغه چل فارمول روسانو د نورو له لابراتواروتو غلا کړي وي لکه د اتوم بم فارمول چي د ځینې هیوادونو پټو شبکو را پټ کړي دي.

د وریښمو زېندي یو بل تعبیر دي چي په دغسي مواردو کي کارول کیږي.

جعفر خان اڅکزي وایي ... هغه د انسان جسم زخمي کوي خو دا بل بې روح ټپي کوي، هغه که انسان تبا کوي نو دا انسانیت بربادوي.

کورنی فقه

پرله پسې ۳۵

نکاح پلار یا د نکاح وکیل

قاضي محمد حسن "حقیار"

زمونږ په ټولني کي یو بل ډېر وژونکي او ناوړه دود ځاي نیولي دي هغه دا چي څرنګه چي الحمد لله زمونږ د ټولني انجوني حیا داره دي او اکثره بې او په ځانګړي ډول پښتني انجوني د خپلي نکاح په وخت کي د نکاح ترلو مراسمو ته د قبول او ایجاب لپاره له راتللو نه ډډه او حیا کوي او د ایجاب او قبول او د خپل مهر د ټاکلو لپاره یو بل څوك د ځان لخوا ته د وکیل په توګه ټاکي چي دي وکیل ته په عرف کي نکاح پلار یا نکاح پدر ویل کیږي . دا سړي بیا د دي انجلي د سکه پلار په څیر ګڼلي شي او هماغسي حیثیت ورکول کیږي لکه خپل پلار ته چي ورکول کیږي ، بیا که دا سړي خپل وي او که پردي ، ځوان وي او که بوډا ددي انجلي کور ته په ازادانه ډول ورځي له ده څخه ستر او پرده نه کیږي، له دي انجلي سره ازاد کښیني، پاځیږي، خبري، ټوکي او ټکالي ورسره کوي او هیڅ د ګناه تصور هم نه کوي.

ناوي بې هم خپل پلار ګڼي او په خپلو حرکاتوکي تري هیڅ تکلیف نه محسوسوي . که چیري دا انجلي له لومړي میړه نه بیلیږي نو بیا له دي وکیل یا نکاح پلار سره بې نکاح هم حرامه او د عرف او رواج مخالف کار بلل کیږي.

په دي هکله باید وویل شي چي تر څو یو څوك له چا سره نسبي تړاو ونه لري او یا شرعاً ورڅخه پرده کول لازم نه وي لکه محرم. رضاعي تړاو ... نو د واړو خواووته د شرعي حدودو په چوکاټ کي چلند په کار دي او یوازي په وکالت حرام حلال کیدلي نه شي د دوي دا پورتني ټول حرکات چي هیڅ شرعي بنسټ نه لري حرام او د اسلام له دایرې نه وتلي کار دي نه په وکالت یا نکاح پلار توب څوك چا باندي حرامیږي او نه پري د ستر احکام له منځه ځي دا هسي رواجي خبري دي او رواج هم داسي رواج چي له شریعت سره هیڅ اړخ نه لګوي.

ډېر داسي هم کیږي چي دا نکاح پدر بیا د ناوي کورته ورشي او ناوي په داسي حال کي چي د ناوي توب جامي بې په تن کي وي ، ارایش او میك اپ بې هم وروستي پړاو ته رسولي وي له خپلي ټولي ښکلا او سینګار سره له دي نکاح پلار سره چي صرف د وکالت سند او ډګري (شهادتنامه) بې اخستي ده کښیني یا خبري کوي نو دا به په کوم دلیل او په کوم شریعت کي روا وي. داسي وکالتونه خو په نورو معاملو کي هم کیږي مثلاً د پلورلو، پیرلو، راکړي ورکړي او نورو معاملو کي نارینه هم وکیل نیسي او ښځي هم وکیل نیسي نو آیا دا ټول شرعي محرمان شول او که د نکاح او مهر وکالت کوم بل کریدت لري ؟

نو دا ټول رواجونه او ناوړه دودونه دي چي له منځه وړل بې لازم دي او هر په اسلام پوه شخص ته په کار ده چي د دا ډول دودونو په ضد جهاد او مبارزه پیل کړي .

اصلاحات فردي و اجتماعي در ترك تباغض ، تحاسد و تدابر

ملا حبیب الله «شریعتي»

افراد مسلمان جامعه اسلامي که مي خواهند در پرتو شریعت مقدس اسلامي زندګي سعادتبار و پر از رفاه را سپري کنند باید از اعمال زشت از جمله بغض ، حسد ، تدابر جداً اجتناب بعمل آورند طوریکه حضرت محمد «ص» جهت رهنمایي و سعادت امت خویش ارشاد فرموده است .

جدیر به ذکر است تا مفهوم کلمات تباغض، تحاسد و تدابر که در حدیث شریف آورده است واضح ګردد.

۱- حقیقت بغض که یك پدیده هیجاني باطني است و از قساوت قلبي و کینه توزي و خصومت سرچشمه میګیرد که در زمان خشمناك شدن و عصبانیت نمایان و عامل اختناق مي ګردد . اختناق باعث حقد (کینه توزي) مي شود و حقد ثقالت ، نفرت و غضب را مستقیماً بر قلب مستولي مي سازد . پیغمبر اکرم «ص» به این معني میفرماید ترجمه : « مؤمن حقود نمي باشد » و ایمان و حقد با هم مناسبتي ندارد ، در دل مؤمن انوار ایمان متجلي است مګر حقد آنرا مکدر مي سازد. حقد پي آمد غضب است و هشت امور مهلك را بار آور مي شود :

۱- حقد سبب بي باکي و بي پروايي انسان در برابر همنوع خویش بوده و همواره در صدد زوال نعمت از برادر مسلمانش بوده و در برابر نزول مصائب بر محقود علیه (طرف مقابل) خوشحال و خورسند مي شود. که البته این فعل از صفات منافقین است .

۲- عامل مقاطعه صلحه روحم، دوستي و محبت شده و عدم مصاحبت را با دوستان اختیار و سر انجام ایجاد تنافر بین جانبین مي شود .

۳- حسد و حسادت را در ضمیر بار آور شده و حس عاطفه و تراحم را سلب مي نمایدو سبب تحریم از مقبولیت به بارګاه اقدس حضرت حق تعالي «ج» مي شود.

٤- حقد سبب اهانت و حقارت حاقد (شخص کینه ورز) در اجتماع مي ګردد.

۵- در وقت سخن ګفتن به حرفهاي نا جائز مثل دروغ، غیبت، افشا ګري و غیره دست مي یازد.

٦- در وقت صحبت جانب مقابل خود را مورد تمسخر و استهزاء قرار میدهد .

۷- سعي بر رسانیدن ملامتي و اضرار دیګران میکند.

۸- از معاملات انساني و اسلامي چون صله‌ء رحم ، نصرت مادي و معنوي و دیګر عواطف روحي باز مي ایستد.

راه علاج و حفاظت از اعمال مزبور چنان است که نیکي ها و محاسن شخص مبغوض را بخاطر آورد و در برابر بغض عکس العمل هاي جانب مقابل از اصل اسلامي «عفو» استفاده نماید و لو که بالایش این امر مشکل تمام شود و در نهایت امر از عقوبت اخروي سخت نګران باشد و علي الفور ترك تباغض را سرشت اخلاق اسلامي خود سازد.

له عالیقدر امیر المؤمنین سره د نظامي مسوولینو لیدني کتني

عالیقدر امیر المؤمنین د ۱٤۱۸ هق کال د ذي الحجي له ۲٤ نیټي نه را په دیخوا د ملي دفاع وزارت سرپرست او د اسلامي اردو لوي درستیز او دغه لاندني نظامي او جهادي قوماندانان په کندهار کي د خپل کار په دفتر کي خپل حضور ته منلي دي :

- د ۱٤۱۸ هـ ق کال د ذي الحجي په ۲۳ د زرهدارو د قواوو مسوول محترم ملا خاکسار اخند او یو تن جهادي قوماندان محترم ملا حبیب الله اخند.

- د ۱٤۱۸ هـ ق کال د ذي الحجي په ۲٤ مه یو تن جهادي قوماندان ملا سعد الله .

- د ۱٤۱۸ هـ ق کال د ذي الحجي په ۲٦ مه د هرات د ولایت امنیه قوماندان ملا عبدالحق اخند.

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په لومړي نیټه جهادي قوماندان ملا حبیب الله اخند.

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په دوه یمه د مرکزي قول اردو قوماندان ملا داد الله اخند

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۷ مه د بلخ او سمنگان ولایت نظامي قوماندانان هر یو محترم قوماندان اختر محمد ابراهیم خیل، محترم حاجي نجیب الله، محترم ملا حبیب الله اخند، محترم قوماندان حاجي گل، محترم سر فراز خان، او محترم قوماندان عبدالمجید.

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۰ مه د بغلان د ولایت نظامي قوماندان مولوي عبدالسلام

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۰ مه د بغلان د ولایت نظامي مسوول مولوي عبدالحي صالحي او د بدخشان د ولایت نظامي مسوول او جهادي قوماندان مولوي عبدالفتاح د یو شمېر نورو قوماندانانو سره .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۳ مه د ملي دفاع وزارت سرپرست محترم ملا عبیدالله اخند او جهادي قوماندان سید امیر محمد آغا .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۷ مه د اسلامي اردو لوي درستیز ملا محمد فاضل او قوماندان ملا آغا جان .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۸ مه د غزني د ولایت یو تن نظامي قوماندان خیال محمد .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۲۲ مه د هرات د قول اردو قوماندان ملا عبدالسلام .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۲۷ مه د هوايي او مدافع هوايي قوماندان ملا اختر محمد منصور او د زابل جهادي قوماندان ملا الفت .

- د ۱٤۱۹ هـ ق کال د محرم الحرام په ۳۰ مه د کاپیسا ولایت نظامي مسوول مولوي ذبیح الله .

عالیقدر امیر المؤمنین د پورتنیو نظامي مسوولینو او قوماندانانو د کار رپوټونه په غور سره واورېدل او هغوي ته یې د ورسپارل شوو دندو په ښه سرته رسولو کي عالمانه لارښووني او مشوري ورکړي .

په اسلامي فرهنگ سمباله اردو څنگه جوړېدلای شي؟

په افغانستان کي د اسلامي نظام د راتللو سره سم د نړیوال کفر په لمسون د تنظیمونو تر منځ دوامداره جگړي ددي سبب شوي چي په هیواد او په خاص ډول په کابل کي د زده کوونکو په مخ پوهنتون او مدرسي وتړل شي. ځیني ځوانان مهاجرت ته اړ شول، ځیني د دوامداره جگړو قرباني شول او ځیني د ژوند د ډیرو سختو مجبوریتونو له امله دېته اړ شول چي د بري مړي ډوډي د پیدا کولو له پاره د تنظیمونو په لیکو کي ودرېږي او د ځینو تنظیمونو د غلط او ناروا سیاست له امله په غلا، چور او نورو اخلاقي فسادونو باندي روږدي شي او دادي زموږ یو زیات شمېر ځوانان آن دا چي په نشه یي موادو باندي اخته شویدي هیڅ کار او کسب نه شي کولاي او ټوله ورځ په نشو کي ډوب دي او د خپلي کورنی له پاره یې زیاتي اقتصادي ستونزي پیدا کړي دي.

الحمد لله د عالیقدر امیر المؤمنین د خاصي پاملرني له امله چي د اسلامي اردو د اخلاقي تقوا په برخه کي یې لري وخت په وخت د اسلامي اردو ټولو قوماندانانو او د ولایتونو نظامي مسوولینو ته په خپلو لیدنو او کتنو کي په دي ټکي ټینگار کړي چي اردو باید په نشه یي موادو او په اخلاقي فسادونو اخته کسانو څخه پاکه وساتي تر څو یوه بشپړه په اسلامي فرهنگ او تقوا اردو بیا جوړه شي، خو د دي له پاره چي د عالیقدر امیر المؤمنین دغه ستر او پاك ارمان تر سره شي نو په کار ده چي د اردو قوماندانان او ټول نظامي مسوولین وخت په وخت د اسلامي اردو په ځواکونو کي داسي پلټني پیل کړي چي په خپل وخت ډیر ژر وکولاي شي چي په اخلاقي فسادونو او نشه یي موادو اخته کسان وپېژني او دغه کار هغه وخت لا ښه سرته رسیدلاي شي چي ددغه رنگه ځوانانو د پېژندني له پاره وخت په وخت روغتیایي ټیمونه د ځان سره خپلو ځواکونو ته بوځي او خپل وسله وال زلمیان د هغوي له معایني او کتني څخه تیر کړي او هغه زلمیان چي په نشه یي موادو اخته وي وپېژندل شي ډیر ژر باید په رواني روغتون کي د علاج لاندي ونیول شي او له بل پلوه لازمه ده چي د اسلامي ارشاد کار کوونکي د معروف د اقامه کولو له پاره وخت په وخت کار وکړي چي دغه کارونه له ځان زیاتي گټي لري یو خو دا چي په نشه یي موادو معتاد ځوانان به د علاج لاندي ونیول شي او د نشه یي موادو له شر څخه به خلاص شي او بل دا چي د اردو په لیکو کي به د نشه یي موادو د استعمال او د منکراتو د پراختیا مخه ونیول شي او په نتیجه کي به په سوچه اسلامي فرهنگ سمباله اردو جوړه شي چي ترموږي اردو به بیشکه وکولاي شي چي د بشپړي روغتیا په درلودلو سره د هیواد د خپلواکي ځمکني بشپړتیا او ملي حاکمیت څخه په داوه رزه په هر رنگه شرایطو ا و هر ځاي کي دفاع وکړي .

زمونږ مجاهد اردو د اسلامي او ملي ارزښتونو ساتونکې

جهاد به د قیامت تر ورځی به روان وي

الحدیث

آشنایي با اصطلاحات تکتیکي و مسلکي

آتش احضارات متقابل

آتش احضارات متقابل عبارت از ضربه کتلوي قوتهاي راکتي، توپچي و قواي هوايي بمقابل گروپ هاي اصلي دشمن که براي تعرض احضارات میگیرد، میباشد. آتش احضارات متقابل براي اولین بار در جریان جنگ جهاني اول از طرف قوتهاي توپچي اردو هاي یك عده ممالك پیشبرده شده بود، در شرایط معاصر، آتش احضارات متقابل اهمیت خود را به حیث یکي از مهمترین تدابیر اکتیف مدافعه حفظ نموده است . اگر آتش موصوف بطور دقیق احضار شده و بصورت ماهرانه عملي گردد، امکان میدهد تا وسایط آتش دار دشمن را تحت تأثیر قرار داده سوق و اداره معنویات دشمن را مختل ساخته و تابل شدن دشمن را به اهداف مورد نظرش مشکل میسازد. آتش احضارات متقابل طبق قرار قوماندان جبهه ترتیب و تنظیم میگردد معمولاً آتش مذکور نظر به فعالیت احتمالي دشمن پلانگذاري میشود. مؤثریت آتش احضارات متقابل با اندازه زیاد مربوط به اجراي کشف میباشد که با استفاده از معلومات آن مناطق، تاسیسات و موقع شروع آتش احضارات متقابل تعین و تدقیق میگردد شکل تأسیس و مدت دوام آتش احضارات متقابل به مقصد آتش، تعداد و کرکتر تأسیسات دشمن که مطابق پلان باید تحت تأثیر قرار گیرند. امکانات قوا، وسایط (کثافت توپچي، ترکیب قواي هوايي و مقدار مهمات) وابسته است. معمولاً قطعات و جزوتامهاي توپچي در اثناي آتش احضارات متقابل مواضع توپچي ، محلات سوق و اداره ، محلات انتظار، محلات تجمع و خطوط اول دشمن را تحت فشار آتش قرار میدهد، قواي راکت و قواي هوايي میدانهاي هوايي، احتیاط هاي نزدیك، محلات اوپراتیفي سوق و اداره و سایر تأسیسات مهم دشمن را تحت تأثیر قرار میدهد. مدت دوام اتش احضارات متقابل بطور عموم وابسته به وضع اقتصادي هر مملکت بوده و ضمناً نظر به تجارب جنگ دوم جهاني در حدود ۲۰-۳۰ دقیقه میباشد.

اجراي انداخت از ماشیندار هاي AKMC, AKM, AK

مقررات اجراي تمرین انداخت تعلیمي در تعلیم و تربیه فزیکي در سلاحهاي فوق قرار ذیل میباشد :

- تبدیل نمودن پارچه و یا کشیدن آن در جریان انداخت بصورت کلي ممنوع است .

- قوه کشش ماشه، ماشیندار نباید بیشتر از ۲ کیلوگرام قوه را تقاضا نماید.

- سلاح باید از هر لحاظ در حال آماده براي اجراي انداخت بفرمان باشد.

- به انداخت کننده همه قواعد و اساسات انداخت در جریان دروس نظري باید آموختانده شود.

هدف براي سلاح : هدف براي انداخت از سلاح هاي مذکور عبارت از هدف سینه که با رنگ سبزرنگ آمیزي شده میباشد.

وضعیت براي انداخت : از حالت پروت، زنگون کیژه و ولار میباشد.

مسافه انداخت : اعتبار از خطر آتش الي محل قرار داشتن هدف ۲۰۰ متر

تعداد مرمي براي انداخت : ۳۰ مرمي در حالیکه به تعداد ۱۵ عدد مرمي در داخل سه عدد شارژور جابجا شده باشد.

براي ماشیندار AK: به تعداد ۱۵ مرمي در سه عدد شارژور که هر یك آن داراي ٥ مرمي باشد، جابجا شود، هدف براي وي سه مرتبه که هر مرتبه آن مدت ٥ ثانیه را در بر میگیرد، ظاهر میگردد در حالکیه وقفه زماني بین هر مرتبه نشان دادن تا هدف ۱٥ ثانیه باید باشد، هر مرتبه نشاندادن هدف از یك وضعیت (پروت، زنگون کیژد و ولار) باید انداخت صورت گیرد.

براي ماشیندار AKM : هدف نمبر ۷ براي مدت ۱٥ ثانیه ظاهر میگردد و از وضعیت پروت بالاي آن انداخت صورت میگیرد. براي انداخت از وضعیت ولار بالاي هدف مذکور براي مدت ۲٥ ثانیه نشان داده میشود، و براي انداخت از وضعیت ولار همچنان.

براي ماشیندار AKMC: نیز عین شرایط باید در نظر گرفته شود.

شرایط انداخت : سربازان و محصلین از تسمه ماشیندار ها میتوانند در همه حالات انداخت استفاده به عمل آورند. درینصورت قسمت هاي حلقوي هر دو انجام تسمه باید بطور حتمي در حلقه یا سگك قنداق و میل ماشیندار بسته و محکم باشد. در اثناي انداخت پرسونل میتوانند شارژور ماشیندار را به زمین استناد دهند. در غیر آن بهترین وضعیت انداخت از سلاح هاي مذکور انداخت باید با استناد دادن آرنج هاي دست به زمین صورت گیرد.

د اتمي وسلو د سیالي په لړ کي :

نړۍ د اتمي وسلو د گواښ سره مخامخ ده !

د رواني پېړي تاریخي بهیر ته که نظر واچوو نو دا به راته څرگنده شي چي د رواني پېړي په اوږدو کي زموږ نني نړۍ د ستري او نه هیریدونکي اتمي ناتار یا فاجعي نه ځان بچ کړي نه دي او له دغه درکه یې سخت زیان لیدلي دي هغه دا چي په ۱۹٤٥ م کال د نړیوالي جهاني جگړي په وروستیو وختو کي امریکا د جاپان د هیروشیما او ناگاساکي په ښارونو باندي اتوم بم استعمال کړ او ددغه بم د استعمال له امله نوموړي ښارونه له مخي تباه شول او له اتمي ناتار څخه هیڅ زیروح او غیر زیروح یې اثره پاتي نه شول او نژدي سل زره کسان په کي له منځه لاړل فصلونه وچ ککړ شول او ټولي وداني له منځه لاړي او لا تر ننه چي د نوموړي اتمي ناتار څخه ٥۳ کاله تیرېږي د ناگاساکي او هیروشیما په ښارونو کي د اتومي ناتار اغیزي په ډاگه ښکاري زمکي په ښه ډول حاصل نه ورکوي و هغه ماشومان چي نوي پیدا کیږي زیاتره یې ناقص الاعضا ښکاري. ددغه اتومي ناتار نه وروسته د نړۍ سترو قدرتونو سره له دي چي د اتومي ناتار ښکاره مادي او ځاني زیانونه یې ولیدل خو بیا هم د اتمي طاقت د پیدا کولو په لټه کي شول او خبره دېته ورسیده چي هر هغه هیواد چي اتومي قدرت ولري نو هغه به د ملگرو ملتونو د امنیت دشورا غړیتوب تر لاسه کوي او نن په دغه غړیتوب کي امریکا، روسیه، چین، فرانسه، انگلستان د اتمي غړي او جاپان د موقتي غړي په توگه منل شوي دي.

او نوموړي هر هیواد حق لري چي د ملگرو ملتونو پریکړي ویټو یا رد کړي. سره له دي چي د امنیت د شورا غړو هیوادونو د اتمي وسلو د کمولو په اړوند زیاتي هلي ځلي کړي او لگیا دي چي اتمي وسلي را کمي کړي او په دغه برخه کي روسیې او امریکا خپلي یو شمیر اتومي سرگلولي له منځه وړي او کیدي شي چي په راتلونکي کي د اتمي وسلو له منځه وړلو له پاره گټور گامونه واخیستل شي، خو هند د امنیت د غړو هیوادو د فشار او ټینگار سره سره بیا هم د روان هـ ق کال محرم الحرام په وروستیو او ۱۹۹۸ کال د مي په ۱۱ مه خپله پنځمه اتومي چاودنه وکړه چي دغي چاودني د نړۍ د سوله خوښونکو خلکو سره زیاتي پوښتني رامنځته کړي او د هند دغه کار یې د نړۍ د تباهي له پاره یو گواښ وباله د هند د اتمي چاودني په وړاندي د نړۍ هیوادونو په بیلا بیل ډول خپل غبرگون وښود او د افغانستان اسلامي امارت هم د هند ددغه اتمي چاودني په وړاندي یوه اعلامیه صادره کړه چي په هغي کي یې د هند اتمي چاودنه د نړۍ د سولي له پاره یو گواښ وگاڼه او له پاکستان څخه یې وغوښتل چي له زغم څخه کار واخلي او اتومي چاودنه دي نه کوي. د پاکستان حکومت او خلکو د هند د اتمي چاودني په وړاندي له زغم څخه کار وانه خیست او د روان هـ ق کال د صفر المظفر د میاشتي په ۲ مه د پنجشنبې په ورځ د بلوچستان د ایالت د چاغي په سیمه کي د افغانستان سرحد ته نژدي یې خپلي شپږ چاودني وکړي. د پاکستان خلکو ددغه چاودنو له امله زیاته خوښي ښکاره کړه او خپل اتمي قوت یې د هند په وړاندي وښووده. د پاکستان ددغه کار په وړاندي امریکا او ځینو لویدیځو هیوادونو سخت عکس العمل وښووده او ځینو هیوادونو خپل سفیران له اسلام اباد څخه وغوښتل او په پاکستان باندي یې یو لړ اقتصادي بندیزونه ولگول، خو د پاکستان خلك بیا هم په دي خوښ دي چي وړي واوسي خو چي د بل د امر لاندي نه وي او خپلي اتمي چاودني یې د ځان له پاره د هند په وړاندي ستر بري وگاڼه د افغانستان د اسلامي امارت ویاند مولوي وکیل احمد متوکل په یوه مرکه کي د پاکستان اتمي چاودني د ټولو مسلمانانو له پاره خوښي وگڼله خود افغانستان اسلامي امارت بیا هم هیڅ وخت په سیمه کي یوځي سیالي نه تائیدوي او غواړي چي په نړۍ کي اتمي او نوري خطرناکي وسلي له منځه لاړي شي او د نړۍ ټول خلك په سوله او وروري کي ژوند وکړي .

هرگاه باموانع ماین وانفلاقدار مواجه شویم، چه باید کرد؟

جنگ بخش بزرگ هستي مادي کشور را که محصول زحمتکشي و افتخار نسل هاي اسلاف ما بود به نیستي کشانید و در سرزمین کهن آفتابي و په غرور ما که بهترین نعمات خداوندي میروید به عوض آنها میلونها ماین کشنده فرش گردیده به حدیکه در جهان معاصر در هیچ کشوري به اندازه کشور ما افغانستان ماین فرش نگردیده است . موانع ماین و انفلاقدار شوم ترین میراث تراژیدي جنگي و مصیبت خانمان سوزیست که الي اکنون صد ها هزار اتباع کشور ما را کشته بي دست و پا و یا علیل ساخته و اگر جنگ ها ختم هم گردد براي سالیان متمادي دیگر نیز تلفات انساني و خسارات مالي ناشي از این مصیبت ادامه خواهد داشت. بناً وظیفه همگان است که اعم از پیر و جوان افراد عسکري و ملکي به این بلاي مصیبت بار بیشتر از پیش توجه نمایند. خود اطفال و یا افراد معیتي شان به موانع ماین و انفلاقدار دست نزنند و هرگاه به موانع ماین و انفلاقدار مواجه میشوند به ترتیب ذیل عمل کنند :

۱- به تمام انواع و اقسام مهمات انجنیري و مهمات توپچي دست نزنید. در بین آتش انداخته نشود زیرا پتاقي ها و سرگلوله هاي آن ها نهایت حساس بوده به اندك فشار و تماس ممکن است به حیات شما خاتمه بدهد. به اثر تجربه ثابت گردیده است که اکثر تلفات اطفال و یا پرسونل نظامي توسط ماین در نتیجه ساعت تیري ویاعدم مراعات تدابیر امنیتي بوده است.

۲- در شهر ، صحرا ، کوه جنگل، مزرعه و چراگاه ها و در هر ناحیه و منطقه که وضع الجیشي اصلي و یا موقتي یکي از قطعات نظامي و محارب بوده ویا در آن منطقه جنگ صورت گرفته است . در صورت موانع ماین و انفلاقدار در بالاي زمین و یا در زیر خاك به قسم تلك دار یا عاري حتمي بود تا اینکه منطقه و مذکور از موجودیت موانع انفلاقي تطهیر نگردد داخل شدن ممنوع است .

۳- عبور و مرور در سرك هاي خامه و پخته ، راه هاي پیاده و یا در مناطقیکه قبلاً وسایط و پرسونل رفت و امد نه نموده باشند رفت و آمد نگردد. به دهلیز هاي سیم خاردار نزدیك شدن جایز نمیباشد. به علایم اخطاریه ماین (اگر موجود باشد) باید دقت کرد تا درکشتزار مین داخل نگردید.

٤- استفاده و داخل شدن به تأسیسات دولتي ، فابریکات و خانه هاي تخریب شده مزارع و چراگاه هاي مشترك ممنوع است .

٥- اگر نا آگاهانه شخص در کشت زار ماین داخل میگردد باید با نهایت دقت از راهي که آمده واپس عودت نماید و آن نقطه را نشاني کرده به مراجع مسوول اطلاع بدهد

٦- از تأسیسات هیدرو او تخنیکي نهر ها ، کانالها ، بند هاي آب گردان تاسیسات زراعتي و چراگاه تا آن زماني که از عدم موجودیت ماین اطمینان حاصل نشود استفاده نکنید.

۷- در اطراف تأسیسات و اهداف عمده دولتي، مرکز و اطراف کشور (میدانهاي هوایي، دیپو هاي عمده فابریکات) کشت زار هاي ماین موجود است که توسط سیم خاردار یك قطاره و یا به حال دهلیز سیم خار دار احاطه گردیده اخطاریه ماین نیز وجود دارد نزدیك شدن و داخل شدن به این محلات خطرحیاتي دارد. مؤظفین و بهره داران نیز از ورود اشخاص به کشت زا ماین جلوگیري نمایند. در اجتماعات ملکي و نظامي و از طریق اطلاعات جمعي، سمعي و بصري خطرات ناشي از ماین و شناخت آن تبلیغ وتفهیم گردد که اگر به موانع ماین و انفلاقدار مواجه میشوند به نزدیکترین پوسته امنیتي گارنیزیون نظامي، اداره پولیس، قوماندان محل، ملا امام مسجد، موسفیدان، و قریه داران خبر داده شود و خود محل توسط سنگ و یا چوب تثبیت و احاطه گردد تا بعداً در تطهیر و خنثي نمودن آن از طریق قطعات و جزوتامهاي که در ترکیب خویش جزوتامهاي انجنیري و مسلکي دارند اقدام گردد.

دستگاه تیلفون ستلایت ...

میدهد : در محفلیکه به همین مناسبت در ریاست مخابرات ولایت هلمند تدویر یافته بود محترم ملا عبدالباري اخند والي ولایت هلمند و جمعي از کارمندان و منسوبین ریاست مخابرات آن ولایت اشتراك ورزیده بودند در این محفل محترم والي ولایت هلمند پیرامون اهمیت موضوع نصب دستگاه تیلفون ستلایت و حل مشکلات مخابروي هموطنان ما در آن منطقه صحبت نموده از توجه مقامات امارت اسلامي در عرصه احیا و باز سازي تاسیسات عام المنفعه ابراز قدرداني نموده دستگاه ستلایت را افتتاح نمود.

بعداً تني چند از کارمندان فني و تخنیکي ریاست مخابرات ولایت هلمند در باره فعال نگهداشتن دستگاه متذکره جهت استفاده اهالي متدین ولایت هلمند صحبت نموده همکاري همه جانبه خویش را ابراز نمودند.

دستگاه متذکره که توسط یك تن از تجار ملي کشور ما و همکاري منسوبین ریاست مخابرات آن ولایت به کار انداخته شد اقدام موثري بخاطر فراهم آوريِ تسهیلات لازم مخابراتي در آن ولایت تلقي میگردد.

طبق یك خبر دیگر ارتباط مخابره تیلفوني بین شهر جلال آباد و طورخم که از چند سال به این طرف قطع و غیر فعال گردیده بود اخیراً به اثر توجه انجنیران و کارمندان مسلکي ریاست مخابرات جلال آباد دو باره فعال گردیده و مورد استفاده قرار گرفت .

د امر بالمعروف د ...

د خوست ولایت د امربالمعروف د مؤظفینو د سعي او کوښښ نه وروسته اوس د خوست ټول متدینه خلك پخپله پنځه وخته د جماعت لمانځه ته حاضریږي او د لمانځه په وخت کي د خوست د ښار ټول دوکانونه، هوټلونه، دواخاني او ... بندیږي په خوست کي ټول د ساز او سرود د کسیټونو او په ودونوکي د موسیقي او نڅاو .

د قماربازانو، چرسیانو او نورو نشیانو په کلکه مخه نیولي شوي ده .

• د امر بالمعروف د مؤظفو نفرو لخوا په مسجدونو کي د لمانځه نه مخکي خلکو ته اسلامي ښوونه کیږي، او هندوانو ته د مسلمانانو سره د توپیر لپاره د ژیړو جامو د اغوستلو امر شویدي او دا عملي شوي هم ده.

الحمد لله اوس د خوست ټول خلك په شرعي زیوراتو مزین دي او د امر بالمعروف د مؤظفینو د اسلامي سلوك څخه د خوست مسلمان خلك خوشحاله او قدرداني یي کوي.

د جنګ له ډګر نه د مخالفو ...

وژني او ورکي ریوټ رسیدلي چي د رستاق له جبهي نه تښتیدلي وو په خیر کي ویل شویدي چي دا پنځلس تنه د جنګ له ډګر نه تښتیدلي و او غرونو ته یي پناه وړي وه چي بیولس تنه یي په واورو کي د ایساریدلو له امله مړه شویدي او د څلورو تنو د مرګ او ژوند معلومات یي لا تر اوسه نشته .

د هوايي او هوايي ...

او وروسته د هوايي پوځ د جومات خطیب د هوايي پوهنتون قوماندان او ددغه پوهنتون یو تن استاد او یوه تن محصل په وارسره د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو، د اسلام د مقدس دین له پلوه د ښوونې او روزنې د ارزښت او داسلام او هیواد د دفاع د ضرورت په باب وینااوي وکړي .

وروسي د ملي دفاع وزارت د ښوونې او روزنې مرستیال محترم ملا نیاز محمد او د حربي پوهنتون قوماندان محترم مولوي محمد ظریف نوراني د دښمنانو د ناوړو هدفونو د محمدي «ص» غرا شریعت د نافذولو په کار کي د الهي او امرو او د افغانستان د اسلامي امارت له خوا محصلانو او استادانو ته د اسانتیاوو د برابرولو په باب خبري وکړي.

وروسي محترم ملا اختر محمد منصور د موضوع په هکله خبري وکړي ده وویل په پوهنتونونو کي د ښوونې او روزنې د بیا پیل کولو په باب د عالیقدر امیر المؤمنین فرمان صراحت لري چي د هغه له مخي د افغانستان اسلامي امارت هلي ځلي کوي چي پوهنتونونه، مدرسي او نور علمي او فرهنګي مرکزونه فعال کړي چي د هیواد ځوانان د الهي حمکونو په رڼا کي زده کړه وکړي .

مراسم د دعایي په لوستلو او د هوايي پوهنتون د قوماندانۍ د منسوبینو لخوا د پوځي رسم ګذشت په اجرا کولو سره پایته ورسیدل. د هوايي او د هوايي مدافعي د پوهنتون قوماندان محترم الحاج سید امین الله آغا زموږ خبریال ته وویل : د هوايي او هوايي مدافعي په پوهنتون کي اوس هوايي، لوژستیك او د خصوصي تقلیبي، رادارو او د مخابري او دافع هوا د توپچي پوهنځي فعال دي چي د لوست چاري یي د یو سلو دوو تنو مجربو استادانو لخوا په مخ بیول کیږي.

د هلمند ولایت د برېښنا ...

هدفونو او ارزښتونو او د عام المنفعه تاسیساتو او د برېښنا د شبکو د بیا احیا کولو په برخه کي د اسلامي امارت د مقاماتو د پاملرني په باب په تفصیل سره خبري وکړي.

وروسي د هیلمند ولایت د برېښنا کوټ د وداني د بنسټ ډبره ددغه ولایت د برېښنا د رئیس لخوا کیښودل شوه .

غونډه د دعایي په لوستلو سره پایته ورسیده .

د غلام محمد میمنګي د انځور ...

محترم متقي وروسته د هنر او ادب رئیس محترم ملا امان الدین هم لنډه وینا وکړه د فارغینو اسناد او سوغاتونه د محترم ملا امیر خان متقي او د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د نشراتي معین محترم مولوي رحیم الله زرمتي لخوا وویشل شول د اسنادو له ویش وروسته د خطاطي او انځورونو نندارتون د محترم متقي لخوا پرانستل شو په دي نندارتون کي ښکلي او په زړه پوري تابلوګانې ، میناتوري او خطاطي شوي وجیزي ننداري ته وړاندي شوي دي.

د عدلیي وزارت خبرتیا

د نبوي «ص» د احادیثو د لارښوونو او ارشاداتو پر بنسټ د ژوندانه په ورځنیو چارو کي د محمدي «ص» د غرا شریعت د حکمونو د نافذولو او د قانونیت د تطبیق د څارني په مقصد د کابل ولایت د مدافعه څارنوالي نظارتي ډلي موظف شوي دي چي د کابل ښار د خوراکي موادو او د نورو لومړنیو مالونو د اصنافو بیلا بیلي برخي وڅیړي او سرغړونکي او محتکرین د شرعي قانون منګولو ته وسپاري.

دغه راز له مربوطو ارګانونه غوښتنه کیږي چي د کابل ولایت د مرافعه څارنوالي له نظارتي دلو سره چي د کابل ولایت د مرافعه څارنوالي په مهر سره د پیژندني مشخص کارتونه او نظارتي پاڼي لري د ستونزي د پیدا کیدو په صورت کي همکاري وکړي.

زمینه لرزه اي شدید ...

است همچنان تکان هاي این زلزله بار دیگر در ولسوالي هاي چاه اب و رستاق ولایت تخار و ولسوالي شهر بزرگ ولایت بدخشان احساس گردیده است که مردم مناطق متذکره از منازل شان بیرون شده و در دشت ها بسر میبرند.

بیشترین تلفات جاني و مالي این زلزله در ولسوالي هاي چاه آب، رستاق ولایت تخار و ولسوالي شهر بزرگ بدخشان میباشد.

بیش از دو هزار کیلو ...

گزارش میدهد : در مراسمي که به همین مناسبت تدویر یافته بود تعدادي از مسوولین ادارات سازمان ملل متحد، هیأت رهبري ولایت ننګرهار و جمعي از ژورنالیستان داخلي و خارجي و مردم منطقه اشتراك ورزیده بودند.

مراسم با تلاوت قرآن عظیم الشان آغاز یافته سپس محترم مولوي عبدالکبیر معاون شوراي سرپرست و محترم مولوي عبدالحمید اخند زاده رئیس عمومي کمیسیون عالي امارتي مبارزه علیه مواد مخدر در رابطه به اقدامات موثر امارت اسلامي افغانستان در مبارزه علیه مواد مخدر و انذار آن از نګاه دین مبین اسلام به تفصیل صحبت نموده و مواد متذکره حریق گردید.

مراسم متذکره با ختم دعاییه محترم مولوي صدراعظم معاون ولایت ننګرهار پایان یافت . تریاکي که حریق گردید از مربوطات ولسوالي هاي ولایات ننګرهار و لغمان به اثر توجه مسوولین مربوط آن ولایات جمع آوري گردیده بود.

کار ترمیم سرك اسعد ...

سه پلچك خورد اعمار میگردد و در نظر است به فاصله ۲۵۰ متر سرك حفل اندازي گردیده و مقدار سه صد متر مکعب مواد فاصله از فاصله مذکور پاکسازي گردد.

در ترمیم سرك مذکور ۹۷ تن گندم از کمك هاي سازمان غذايي جهان و اضافه تر از دو صد ملیون افغاني مصرف میگردد در اخیر محفل محترم مولوي عبدالهادي اخند زاده والي ولایت کنر ها ضي سخنانی توجه به اعمار و آباداني مجدد کشور را جزئي از ایمان و علاقه بوطن خوانده و آرزو نمود تا بتوانیم با اخلاص و صداقت هر چه بیشتر وطن ویران شده خود را آباد نمائیم پروژه یاد شده توسط محترم والي ولایت کنر افتتاح گردید.

په غلورو جبهو کي د ...

تنو وژل شویو کسانو مړي د بورکي په ولسوالي او به شکر دره کي د جګړي په ډګرونو کي پاتي دي.

دغه راز د دښمن په دغو ناکامو بریدونو کي څو ژغروالي درندي واسطي او په لسګونو مسله درندي او سپکي وسلي د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو د ګمکنیو او هوايي پوځونو د دقیقو ډزو له امله وبجاړ او له منځه وړل شویدي

د یو بل خبر له مخي د اسلامي امارت مخالفینو په بیلا بیلو جبهو کي د پرله پسي ماتو د غچ د اخیستلو په خاطر د کابل ښار د استوګني په سیمو باندي څلور توغندي وویشتل دغه توغندي د کابل ښار په ولاعتي ګمکو کي لګیدلي دي او د سر زیانونه او مالي تاوانونه یي ندي اوړلي.

د کابل پوهنتون د لیلیي ...

پوره احساس او درك څرګندونه او ژمنه یي وکړه .

په محترم حقایقي پسي د لوړو تحصیلاتو د وزارت سرپرست محترم مولوي حمد الله نعماني د علم او زده کړي د فضیلت په باب رڼا واچوله او هغه وجوهات او لاملونه یي هم تشریح کړل د کومو لاملونو له مخي چي د کابل پوهنتون لیلیه د لږ وخت لپاره تړل شوي وه همدا راز محترم نعماني د خپلو هغو هلو ځلو نه هم د غونډي برخه وال خبر کړل چي تر اوسه یي د لوړو تحصیلاتو لپاره د زمینې د لا برابرولو په هکله تر سره کړیدي .

وروسي د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي یوه هر اړخیزه وینا وکړه او د اسلام او اسلامي شریعت په ضد د نړیوال استکبار د سیسي او توطیي یي په ګوته کړي محترم متقي د خپلي وینا په یوه برخه کي د پوهنتون محصلین اسلامي او ساینسي زده کړو ته وهڅول او ویي ویل چي همدا د پوهنتون محصلین دي چي اتوم یي جوړ کړیدي تاسي هم باید لوړ لوړ فکرونه ولرئ محترم متقي وویل چي په خیرات او سوال څوك ته مړیږي مونږ او تاسي باید د خود کفایي فکر ولرو او په خپل کور ګان پوره کړو.

وروسي د کورنیو چارو سرپرست وزیر محترم ملا خیر الله خیر خواه یوه عالمانه او جذابه وینا وکړه . محترم خیرخواه وویل چي د طالب او محصل تر منځ هیڅ توپیر نشته هر طالب محصل او هر محصل طالب دي . اسلامي امارت نه د دوي تر منځ توپیر کړیدي او نه به یي په راتلونکي کي وکړي ده وویل چي ټول محصلین زمونږ وروڼه او مونږ د هغوي وروڼه یو محترم خیر خواه وویل چي مونږ د اسلامي نظام د احیا او راوستلو لپاره ، ډیري قرباني ورکړیدي نو حتمي ده چي بقا او پاینښت یي هم غواړو او د اسلامي نظام د پاینښت لپاره د هر فن او مسلك پوهانو ته اړه لیدل کیږي ده وویل چي د طالب او محصل تر منځ اختلافاتو ته اسلام دښمنه قوتونه لمن وهي. او ټول محصلین او طالبان باید ددوي دسیسو ته متوجه وي اوسي همدا راز د حج او اوقافو وزارت معین محترم مولوي محمد مسلم حقاني هم یوه اوږده عالمانه وینا واوروله .

وروسته د سرپرستي شوري رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني یوه عالمانه او هر اړخیزه وینا وکړه د سرپرستي شوري محترم رئیس د خپلو خبرو په ترځ کي د افغانستان د اسلامي امارت په ضد د نړیوال کفر په پروپاګند او دسیسو پوره رڼا واچوله او ټول مسلمانان یي د اسلامي نظام د ټینګښت او د اسلامي شریعت د تطبیق د ارمان د تحقق په خاطر وحدت اوپیوالي ته راوبلل. د سرپرستي شوري محترم رئیس د خپلو خبرو په ترځ کي محصلینو ته ډاډ ورکړ چي ان شاء الله تر خپلي وسي پوري به له دوي سره مرسته کوي او د دوي اړتیا وي به پوره کوي د سرپرستي شوري محترم رئیس وویل چي مونږ ډاکتر او انجنیر ته اړتیا لرو خو مسلمان او متعهد ډاکتر او انجنیر ته . ده د لوړو تحصیلاتو په مسؤلینو او د پوهنتون په استادانو غږ وکړ چي محصلین دي په اسلامي روحیه وروزي. غونډه د لوړو زده کړو د وزارت د معین محترم الحاج مولوي محمد موسي په دعائیي سره پاي ته ورسیده .

یادونه

ښايي ستاسو ایمان به اجازه درنکړي چي دا ډول سپیڅلي پاڼي په ناوړو ځایونو کښي وغورځوي.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر

ملك	شپږ	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د شریعت تبصره

ایدیولوژي هاي وارداتي را نمیتوان به ذهن و عقیده ملت مسلمان ما تحمیل نمود

تاریخ چندین هزار ساله کشور عزیز ما شاهد و باز گوي این حقیقت است که ملت افغان آن ملت غیور و با شهامتي است که هیچگاه و به هیچ نیرو اجنبي سر تسلیمي خود را پائین نه نموده و حس غلامي در خون آن جاه ندارد این ملت با حوادث ، تراژیدیها و فاجعه هاي بي نظیر مانند قتل عام چنګیز، بر آتش کشیدن و کله منار ساختن هاي تیمور لنګ، بیداد ګري هاي استعمار کهن انګلیس، غلامي و وابستګي شاه شجاع با اجانب رو به رو شده اما با کمال اطمینان و مورال عالي با این حالات مقابله نموده و حیثیت و اصلیت خود را حفظ نموده است .

بعد از آنکه با قرباني هاي پیهم و بي نظیر تحریك اسلامي طالبان، بساط افراد شریر ، لجوج و ملیشه هاي ګلم جم بیش از هشتاد فیصد از خاك کشور چیده شد و عنقریب بود که اهالي مظلوم بیست فیصد خاك بقیه کشور نیز با همت والاي اردوي امارت اسلامي از شر این ددمنشان نجات بیابند کفر جهاني یکبار دیګر تکان خورده و به اهتزاز در آمده و پلان ها و خطوط شیطاني را علیه امارت اسلامي به کار انداخته و به خاطر جلوګیري از پیشرفت برق آساي اردوي اسلامي و تشکیل نظام اسلامي همه افراد بي ضمیر ، کمونستها، خاینین دین و ملت و افراد زر خرید و حلقه به ګوش خود را تحت یك چتر شیطاني ګرد هم اورده و به آنان دستور داد تا به هر قیمت که میشود باید جلو تشکیل حکومت اسلامي را ګرفته تا جهانیان و به ویژه مسلمانان افغانستان مزایا و حلاوت نظام زنده ګي بخش اسلامي را نه چشند و همان بود که جواسیس خود را در لباس مجاهدین با ګلم جم هاي بدنام و عاملین کودتاي هفت ثور ۱۳۵۷ آن عناصر وابسته به اجانب ، پیروان و معتقدین ایدیولوژي وارداتي مکتب پوچ و بي محتوي کمونیزم ، آنهایکه تمام معتقدات ، مقدسات و اخلاقیات یك قوم و ملت غیور را زیر پا نموده و از مفکوره، لینن و ستالین الهام ګرفته اند؛ یکجا نمود که تشکیل فرقه، متشکل از افراد باغي از امارت اسلامي افغانستان در شمال کشور و جنرالان کاغذي کمونیست مانند اسد اله سروري،نبي عظیمي، جمعه احك، فرید مزدك، ګلاب زوي و ... بر منطقه سرحدي کولاب - تاجکستان شاهد ادعاي ما است .

ولي اینها غافل از این اند که ملت افغان دوران تاج و تخت این همه ګرو هاي را دیده و طعم حکمروایي شان را چشیده است و هیچګاه و به هیچ قیمت حاضر به پذیرفتن دو باره آنها نیست، ملت، نیزه ها، پرچه ها ، کشتار هاي دسته جمعي، شکنجه ګاه ها و تعذیبهاي برقي زندان پل چرخي خلقیها و پرچمیها، واقعات میخ کوبي در سینه و سر زنان و مردان بي ګناه و خاطرات رقص مرده و ... ملیشه و باند هاي دیګر را فراموش نکرده است و چیزي را که ملت تائید نه کند و به چیزي که ملت آغوش خود را باز نکند هیچګاه امکان تحمیل نمودن آن بالاي ملت نیز دیده نمیشود.

این غیظ و غضب همین ملت بود که در مدت نهایت کم،در اضافه تر از ۸۵٪ خاك کشور بساط ظلم و وحشت چیده شد و طالبان عزیز را حکمفرما ساخت.

ملیشه هاي شریر به خاطر اشباع خواهشات خویش خون ملت را ریخته و میریزند شاهدان عیني و وسایل ارتباط جمعي همین اکنون میګویند که مخالفین امارت اسلامي بالخصوص قاتل بزرګ ملت (مسعود) از نواحي تحت کنترول خویش کودکان و مو سفیدان را به زور بر چه و میل تفنګ به جبهات ضد اردوي اسلامي میفرستند و آنها یا اینکه نمیخواهند در کنار باطل علیه جبهات حق بجنګند و یا اینکه تاب مقابله را در خود نمي بینند ؛ یا به فرار زده که طبق یك خبر تازه ۱۵ نفر از همین قماش افراد بعد از فرار از جبهه رستاق به اثر ګیر ماندن در برف هاي کوه، جان هاي خود را از دست دادند .

جهانیان دیدند که مخالفین امارت اسلامي در همین اواخر طبق یك پلان منظم و مطروحه علیه جبهات اردوي اسلامي در چهار جبهه حملات وسیع و پیهم خود را آغاز نمودند؛ اما بخاطر اینکه ملت از آنها راضي و خوش نیست و هیچ همکاري با آنها ندارد : در هر چهار جبهه با شکست فاحش مواجه ګردیدند.

شاید هموطنان ما از رسانه هاي خبري شنیده باشند که بعد از حادثه المناك زلزله در ولایت تخار و بدخشان که از اثر آن به تعداد تقریباً شش هزار نفر جان خود را از دست دادند و هزاران تن دیګر یا زخمي یا شهید زیر خاك بودند؛ در حالیکه مردم از فرط غم و اندوه این حادثه سکته قلبي مینمودند و نیرو هاي اردوي امارت اسلامي مصروف کمك رساني به این مصیبت زنده ګان بودند؛ ملیشه ها با اغتنام از فرصت حملات خویش را علیه سنګر هاي مجاهدین آغاز نمودند و ملت رنج دیده را یکبار دیګر به خون و اشك فرونشاندند و باز هم طبق عادت دیرینه و منافقانه خویش حقایق را وارونه جلوه داده و مسوولیت حمله را بالاي مجاهدین اردوي اسلامي انداخت .

مبصرین به این باور اند که تجرید و انزواي مخالفین امارت اسلامي از ملت از یکطرف و عدم موجودیت مورال جنګي و هماهنګي در بین افراد و قوماندانان مخالفین امارت اسلامي از طرف دیګر زمینه، سقوط حتمي آخرین لانه هاي ملیشه ها را مساعد مي سازد و بالمقابل استقبال از اهداف و ارزش هاي اسلامي، امارت اسلامي؛ پوتنشیال نظامي و سیاسي اردوي اسلامي را بالا میبرد.

باید در اخیر یك بار دیګر به این افراد جنګجو و خائنین اسلامي و ملي هوشدار داد که بدون رضا و اراده ملت نمیتوان بالاي مردم حکومت کرد و باید از تاریخ ګذشته خویش عبرت ګیرند آنها واقعات ماضي قریب کشور را از دوران امیر عبدالرحمن ګرفته تا دوره کمونستها و حکمروایي ۱۵۱۶ روزه دوران شر و فساد را در آینه ذهن خویش عبور داده خود قضاوت کنند و بګویند که ایا بدون خواست و اراده ملت بر خلاف عقاید و ارمان هاي آنان حکومت امکان پذیر است یا خیر !

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press